# په پښتنه ټولنه کښې د رسمونو ، رواجونو یو څېړنیز جاج

# A research study of customs and traditions in Pashtun society

Dr. Haider Hussain*

Abstract:

This research explores the historical and cultural foundation of Pashtun society, emphasizing its unique social code known as Pashtunwali. With a legacy spanning over 5,000 years, the Pashtun nation has developed distinct traditions that have shaped its collective identity. The article examines how foreign powers, especially British colonialism, deliberately marginalized Pashtun regions to suppress their resistance and autonomous character. As a result, Pashtun youth today often remain unaware of their cultural heritage.

The study highlights nine major elements of Pashtunwali: Jirga (tribal council), meraka (consultation), nanawatey (plea for forgiveness), Teega (temporary truce), rogha jorra (reconciliation), Panah (asylum), nang (honor), respect for women, and ghazwa (religious defense). These elements function as an unwritten constitution, deeply embedded in the Pashtun way of life, reflecting democratic values and ethical principles.

Through references to oral traditions, poetry, and scholarly sources, the article demonstrates how Pashtunwali acts as a code of conduct that governs personal, social, and legal aspects of life. The research calls for renewed attention to Pashto language, cultural education, and the revival of indigenous knowledge, to preserve the identity and dignity of Pashtun society in the modern world.

**Key notes:** Cultural Norms, Pashtunwali, Jirga, Nanawati, Teega, Panah, Nang

پښتنه ټولنه خپل یو ستر تاریخ لري هسې خو پښتانهٔ هم ډېر لرغونے قام دے ځکه خو ئې تاریخ د ۵۰۰۰ کالو نه اخوااوړي او د دې قام چې کوم د ژوند تېرولو طور طریقې دي

* Letcturer Pashto Department G.D.C Temergara Dir

هغه به هم د هغه زماني راهسي راروانې وي د انساني تاریخ پۀ ټوله نړۍ کښې څۀ کوټلي ثبوت نشته او تش پۀ قیاساتو خپل ځان رټا ته اوباسي خو محض تیارې او تورې لړې پۀ نظر راځي ځکه خو ورته ځیني پوهان (ډارک ایج) یا لرغوني زمانه وائي ـ

د انساني ټولني تاریخ هم ډېر اوږد دے بیا ئي پۀ خپل ذات کښې ډېر وړۀ وړۀ تاریخونه پراتۀ دي پۀ دغه تاریخي دورو کښې د پښتون قام تاریخ یو نۀ هېرېدونکے او نۀ ماتېدونکے حیثیت لري اوس موږ دا سوچ کولے شو چې ټولنه اخر وائي څۀ ته؟ د کومو عناصرو نه ټولنه پۀ وجود کښې راځي او د کومو کومو اقدارو پۀ بنیاد مخ په وړاندې ځي یا یوه ښۀ ټولنه کښې کوم کوم اقدار او لازمي توکي ډېر ضروري دي ځکه نو د ټولو نۀ اول دا ګټل پکار دي چې ټولنه څۀ ته وائي د دې ډپاره ضروري ده چې موږ د ټولنې لنډ شان تعریف وکړو ـ

"ټولن پوهنه په لغوي لحاظ سره د عربۍ ژبې ټکے دے چې معنٰی ئې معاشرتي تړون او ټولن پوهنه ده دې علم ته په پښتو کښې ټولن پوهنه عربۍ او اردو کښې ورته عمرانیات فارسۍ کښې اجتماعیات په هندۍ کښې ورته سماجیات او په انګرېزۍ کښې ورته سوشیالوجي وئیلے شي ـ سوشیالوجي د لاطینۍ ژبې ټکے سوشیو د یونانۍ ژبې لوګس نه اخذ کړے شوے دے د سوشیئس معنٰی ده رفیق دوست ملګرے او د لوګس نه لوجي ټکے اخذ کړے شوے چې معنٰی ئې په ضابطه طریقې د یو څیز مطالعه کول دي" [1]

د ټولن پوهنې د علم پۀ رڼا کښې دا خبره ثابته شوه چې دا یو علم دے او پۀ دې کښې د یوې معاشرې ښۀ ژوره مطالعه کولے شي ـ دغه معاشره خوا که هره یوه وي خو د هغې د اقدارو او ژوند ژواک ټولې طور طریقي په کښې د بحث لاندې راوړلے شي پښتنه معاشره پۀ مختلفو وختونو کښې وروستو پاتې کړے شوې ده ـ هم دغه وجه ده چې د پښتنو کومه ترقي او پرمختګ ارمان وۀ هغه ئې حاصل نۀ کړے شو او وروستو پاتې قام ثابت شو پۀ دې کښې د تاریخ نه دا ثابته ده چې د ټولو نه زیات اهم کردار په کښې انګرېز سامراج لوبولے دے ـ لکه داور خان داؤد لیکي چې

"دا معاشي او اقتصادي تنګدستي او بدحالي د انګرېزسامراج پۀ دور حکومت کښې هم څۀ کمه نۀ وه برطانوي حکومت کۀ هر څو ددې برصغیر بې شمېره علاقې د پرمخ تګ پۀ لور رواني کړې وې او دغۀ رنګ پۀ اؤلس ئې بې شماره معاشي، اقتصادي او معاشرتي پېرزوئني کړې وې خو د پښتنو دا علاقه ئې قصداً روستو پاتې وساتله ـ ددې وجه دا وه چې پښتون فطرتاً یو آزاد او خود مختاره قوم دے" [2]

هم دغه وجه ده چې زمونږ د ځوان کهول نه دا هر څۀ هېر دي او اوس د بده مرغه دا نۀ پېژني چې پښتونولي څۀ شے دے پښتنه ټولنه پۀ کومو ستنو ولاړه ده ځکه چې ځوان کهول او نوے نسل د دې هر څۀ نه نا خبره ساتلے شوے دے او پۀ تعلیمي ادارو کښې ورسره هم دا لوبې رواني دي لکه

''پشتو ذریعہ تعلیم نہ ہونے کی وجہ سے اس کے الفاظ میں لپٹا فلسفہ سمجھنے سے محروم ہوتے جارہے ہے۔ آج کل کا طالب علم ملاتڑ، جگڑہ، درناوے، غزا، ازادی، تڑون، اور سیالی وغیرہ کے الفاظ کے معانی اور مفہوم کہاں سے سیکھ پائے گے۔ ہمارے درسی کتابوں میں عالمی انقلابی تحاریک اور خصوصا برصغیر کی تحاریک کا ذکر ضرورت سے زیادہ تفصیل سے کیا گیا ہے۔ لیکن ان تحاریک میں پشتون قوم کی قربانیاں قصدا اس لئے نظرانداز کئے گئے ہیں۔ تاکہ ہم سے ہمارے شخصیات کے کارنامے اور مقاصد چھپائے جاسکے''3

اوس مونږ پهٔ دې نتیجه رسو چې پښتنه تولنه کښې اخرکوم داسې صفات وو چې غېراو اغیارو ئې د ماتولو او ورکولو هڅه کوله؟ اصل کښې پښتنه تولنه یو سوچه ائین لري خپل ځانګړتیاوې لري ــ دغه ځانګړتیاوې ډاکټر نور محمد دانش بیټنے داسې بیانوي ــ

"پښتانهٔ من حیث القوم د نړۍ د یو ژوندۍ معاشرې سره ریښتې لري څنګه چې د هرې معاشرې خپل خپل عادات روایات رسمونه رواجونه تهذیب و ثقافت وي ــ دغه شان پښتنه معاشره هم د خپل چوکاټ دننه او په پښتنې ائین او دستور پوره خپل روایات رسمونه رواجونه معاشرتي ضروریات او حاجات لري " 4

اروابناد پروفېسر نواز طاهر صېب پهٔ "ټپه او ژوند" کښې لیکي چې

"پښتنه معاشره په دې قحط کښې د هغه پائېدارې مانۍ په مثال ده چې د انساني تاریخ ډېر پخواني ادوار ئې لیدلي دي ــ ډېر انقلابات ئې د سره تېر شوي دي خو د خپلې اوږدې ساه او محکمو بنیادونو پهٔ برکت ئې خپل انفرادیت هم همېش دپاره ژوندے او قائم ساتلے دے د پښتنو په لمن کښې وسعت دے د پښتنو په ادابو کښې سادګي او جاذبیت دےــ ددې مانړۍ بنیادونه پاخه او فطري دي دا د تصنع نه پاک دي ــ دغه آداب او آثار د پښتنو د ژوند په هر اړخ او هره زاویه حاوي دي " 5

پښتونولي او پښتو د پښتنو د ژوند ژواک او طور طریقه یو نا لیکلے ائین او دستور دے پهٔ دې دستور کښې د پښتنې تولنې تول اقدار شامل دي ــ ځکه خو ورته د پښتنو پینځم مذهب وئیلے شي ــ دا پښتو او پښتونولي د پښتنو (کوډ اف لائف) ګڼلے شي ــ اروابناد ډاکټر راج ولي شاه خټک داسې لیکي چې

"this is the land of the pakhtoons inhibited by about afghans. This is the one nation. Their culture is known as “Pashto” which is also their language and back bone of their culture”6

دغه پښتو او پښتونولي د پښتنو کلچر او ثقافت یادېږي ــ دغه ثقافت ډېر کوټلے او مضبوط دے ــ ډېر فلېکس ابېل ائین ګڼلے شي پهٔ دې کښې د ژوند تول اړخونه راتلے شي ــ ځکه چې کوم څیز پهٔ ژبه کښې بیانولے شي دا هر څهٔ د ثقافت او د پښتو پهٔ ائین کښې شمارلے شي او ددې دپاره یوه ښهٔ الهٔ ده ــ لکه ''د فکر یون'' کښې مولانا عبدالقادر لیکي چې

"د کلچر او ثقافت دې لوئې تاریخي مجموعې کښې دا اجزاء

شامل دي ـ مذهب د اولسي ژوند نظام تمدن، تهذيب، دود دستور، رسم و رواج روايات، ژبه، رسل و رسائل هر قسم اداري اولسي تنظيمونه خپلولي، وادۀ کوژدنه، د مړي ژوندي سره متعلق، دستوزونه، قيصې روايتونه، دم درود، جادو، اقتصادي اداري او وفنون ادب موسيقي نقاشي وغيره وغيره لوبې غرض دا چې د اولسي ژوند د هر اړخ سره متعلق عمل چې تاريخي دور د ابتداء نه پس د پخوا راروان دے۔ د کلچر يا ثقافت په دائره کښې شمېرلے شي چې پۀ هغې کښې ژبه د ټولو نه اهمه اله ده" 7

د هر قام او هرې ټولنې خپل خپل رسمونه او دودونه وي ـ د هر مذهب مطابق خپل خپل رسمونه وي ـدې رسمونو کښې ښۀ هم شته او بد هم ـاسلامي او غير اسلامي هم ـ پروفېسرډاکټر جهان غالم د پښتنو د رسمونو پۀ حقله داسې ليکي چې

''پښتانۀ پۀ حيث د يو قام خپل خصوصيات لري ـدغه خصوصيات ښۀ دي او کۀ بد خو د پښتون د شناخت باعث شوي دي ـ د جهالت سره سره ورو ورو پښتون احساس هم جوړه وخوړه او د بې خبرۍ د خوارۀ خوبه راويښېدل شروع شو۔ ځکه ځينې لرغوني غير اسلامي او غير فطري رسمونه پۀ شاکېدل مونږه وينو" 8

پۀ پښتو اولسي ادب کښې هم دې اړخ ته ډېره توجه شوې ده او ډېر مواد پۀ دې موضوع پيدا کېږي چې رسمونه،رواجونو ظرف ته په کښې اشارې شوې دي ـ پښتو ټپه پۀ دې حقله د يادونې وړ ده۔ځکه چې پښتو ټپه ډېره موثره ده او دغه د اولسي ادب د ټولو نه مشهوره او زوړ صنف دے۔د سلمٰی شاهين راټولې کړے شوې ټپې چې د روهي سندرې پۀ نامه ياديږي دغه شان نمونې لري ـ دا د تلميح يوه طريقه ده او يوې تاريخي واقعي ته پکښې اشاره شوې وي لکه ۮ مثال پۀ توګه د پښتو دا ټپه چې

"د ملېزو بده دستوره
پۀ غوږ ځوندي به د وربشو ګېډۍ وړينه"

يا دا چې

وانۀ پۀ خُلۀ پړے غاړه
زۀ د بېلتون پښو له ورځم کۀ پرې مې ړدينه 9

خو دا ځانله يو اوږد بحث دے چې زۀ ترې دلته ډډه کوم او خپل مقصد ته راځم او هغه دا چې پښتونولي پۀ درې ډوله ده لکه خوي خصلت،دوددستور،او لارې چارې ـ د پښتنو دوډ دستور او رسم او رواج دا ټول د پښتونولۍ پۀ دويم نمبر حصه کښې راځي۔ يعني مونږ دا وئيلے شو چې پۀ خپل ځان کښې يو لوي سمندر لري چې پۀ ټولو پښتنو کښې يو شان ليدے شي۔ دا اصل کښې نا ليکلے ائين دے چې مونږ ورته رسم رواج هم وئيلے شو دا رسم و رواج د هر معاشرې خپل خپل وي د يوې معاشرې رسمونه د بلې نه بيخي بدل وي يعني هره معاشره خپل رسمونه لري ـدې ته پوهانو د پښتنو طور طريقې هم وئيلي دي ـ دا طور طريقې په ټولو پښتنو کښې يو شان دي او پۀ تعداد کښې نهه (۹)ذي ـ لکه د مثال پۀ توګه جرګه،مرکه،ننواتے،تيګه،روغه جوړه،پناه،ننګ وروړل،د ښځو درناوے او غزا ـد هر څۀ دلته لږ په تفصيل سره ذکر کول لازمي دي چې واضحه شي چې دود دستور څۀ دي او کوم ډول دي ـ ښۀ دي او کۀ بد ـ د پښتنو د معاشرې ـڅنګه نمائندګي کوي او پۀ کومه طريقه دا محفوظ شوي دي او بهرني قوتونو دا څنګه او پۀ کومه کومۀ پروپېګنډه بدنام کړي دي۔ دا هر څۀ چې پۀ نظر کښې وساتلے شي او بيا د پښتنو پۀ دې عظيم ثقافت نظر واچولے شي نو پښتانۀ د ټولې نړۍ نه اعلی او اوچت ښکارې ځکه چې د دوي خوي خصلت

او رسم و رواج ټول ډېر خوندور دي او پهٔ جمهوري خطونو استوار کړے شوېدي پهٔ دې ټولو رسمونو کښې زمونږ سره ښهٔ رسم جرګه ده پهٔ دې حقله صديق الله رشتين ليکي چې

"**جرګه**:- پهٔ پښتني دود کښې جرګې او مرکې ډېر اوچت ځاے لري -د جرګې پرېکړه او فېصله په پښتنو کښې د يو قانون حکم لري او هر څوک چې د جرګې له حکم نه سر واړوي نو پړ او ملامت ګڼل کېږي لازماً سزا هم ورکولے کېږي کهٔ چرې دوؤ تنو يا اولس پهٔ مينځ کښې هغوي غټه لانجه او يوهٔ دعوه پېښه شي نو د دغه کار دپاره د کلي مشران يا د اولس د خوا جرګه جوړه شيکله چې جرګه راغونډه شي نو دواړو طرفونو نه واک واخلي او پهٔ مينځ کښې يوه مچلګه هم کښېږدي مچلګه د ټوپک او پېسو ضمانت ته وائي کهٔ چا د جرګې فېصله ونهٔ منله نو مچلګه ئې هم د مينځ نه ځي او د جرګې لهٔ خوا ورسره تګ راتګ هم ختم شي جرګه د دوؤ مدعيانو په غوښتنه هم راغونډېږي جرګه په دوه ډوله ده (۱)لويه جرګه (۲) وړه جرګه -

لويه جرګه د لويو قومونو د مسئلو دپاره وي او وړه جرګه د کلي او سيمې د لانجو او جګړو د پرېکړې دپاره مينځ ته راځي په کومه جرګه کښې چې څوک واک نهٔ ورکوي نو جرګه خپله فېصله اوروي مګر د نهٔ منلو په صورت کښې بيا بله جرګه جوړېږي او جرګې والا کوشش کوي چې خامخا د دواړو خواؤ تر مينځ جوړه وکړي لويه جرګه په افغاني تاريخ کښې ډېر اهميت لري احمد شاه بابا پهٔ کندهار کښې د لوئې جرګې لهٔ خوا په کال (۱۱۶۱ھ)کښې د پاچا په توګه انتخاب وشو- اميرامان الله خان په وخت کښې(۱۳۰۱)کښې د نظامنامې د جوړولو دپاره لويه جرګه راغوښتلے شوې وه-دغه شان هر وخت د يو لوي قومي مقصد دپاره لوئې جرګې جوړې شوې دي - لويه جرګه په پښتني قانون کښې د اولسي جرګې ځائے لري خو دومره ده چې د يو ټاکلي تبتې دپاره وي او يواځې د يوې موضوع او پېښې دپاره جوړېږي جرګې د پښتنو د جمهوريت يوه غوره نمونه ده په جرګه کښې مشران او کشران يعنې سپين ږيري او ځوانان ټول برخه اخلي مګر زيات واک د مشرانو او سپين ږيرو په لاس کښې وي څوک چې د پښتني قانون نه زيات خبر وي او تر ټولو زيات مشر او پوهه وي هغه د جرګې مشر وي خو پرېکړه د رائے په ډېر والي کېږي - يو سړي ته جرګه مار او نورو غرو ته جرګه تيان وائي په جرګو کښې زيات کسان خپل مطلب په متلونو او تکلونو ثابتوي هر څوک چې په دغه خوا کښې تکړه وي د هغه خبره هم غوره وي -

په حقوقي معاملو کښې جرګې د ډوډۍ او خوراک خرڅ او تاوان دواړه لورتي او په شريکه ډول ورکوي مګر په لويو اولسي جرګو کښې د ډوډۍ او د خوراک انتظام د اولس او قوم لهٔ خوا کېږي [10]

جرګه ذ تړيوالو قوتونو لپاره ډېر د خوښې توکے وګرځېدهٔ او دغه شان ورله هغوي د پارلېمنټ نامه ورکوي - جرګه زمونږه د پښتنو د پارلېمنټ حېثيت لري -

دغه شان مرکه ده مرکه ډېره مؤثره ذریعه ده مرکه خوشحال بابا هم یاده کړې ده او دا معلومېږي چې مرکه هم د پښتنو د زوړ تاریخ یو اهم توکی او جُز دے د مرکې خپل اصول دي مرکه کښې لوئې او واړهٔ ټول شمولیت کولے شي ددې برعکس جرګه کښې دې صرف سپین روبي شرکت کولے شيد مرکې په حقله "پشتونوں کی عظیم قوم کی عظیم ثقافت" مؤلف لیکي چې

"کسی معاملے کی متعلق بحث کرنے کو مرکہ کہتے ہیں۔اس میں ہر چھوٹا بڑا شرکت کر سکتا ہے۔ مرکہ میں کسی معاملے کی متعلق فیصلہ نہیں دیا جاتا بلکہ کسی معاملے یا چیز کی بارے میں حقائق جاننا ھوتا ہے۔"11

**تیګه؛** دغه شان تیګه ده۔ تیګه د دوؤ ډلو پهٔ مینځ کښې عارضي ډزبندی ته وائي په دې باب کښې صدیق الله ریشتین لیکي چې

"تیګه اینښودل د پښتنې قانون یو محکم دود دے او دا د سولې او امن یو ښکاره اعلان دے کله کله د دوؤ خپلونو او قومونو تر مینځ د جنګ جګړې لانجه پېښه شي او دواړه طرفته په سخت کړاؤ او تاوان اخته شي نو په دې وخت کښې د کلي مشران او ملیان راغونډېږي او د جګړمارو تر مینځ د جنګ بندېدو تیګه ږدي د تیګې د ایښودو په وخت کښې کلکه ناغه هم لګول کېږي تیګه ماتول په پښتنې دور کښې یو بد او ناوړه کار بلکه جرم دے او بیا د دغې جرم سزا هم ورکولے کېږي تیګه ایښودل د دوؤ جګړه کوونکیو قومونو تر مینځ د سولې معنې لري د تیګې د ایښودو او سولې د خبرو په وخت کښې ډزې هم بندېږي چې دې ته ډزبندي وائي"12

د دې نه پس چې کوم اهم توکے راځي هغه "ننواتے" دے چې پهٔ ډېرو موقعو کښې په کار راځي ټول پښتانهٔ د ننواتي قدر کوي او د ننواتي ورورونکے بې نوا نهٔ رخصتوي پهٔ دې کښې میا، ملا، او سیدان ډېر د درناوي مستحق دي او پښتانهٔ د دوئ خبره مني او خوک چې هم دوي پهٔ ننواتي ورلېږي هغوي ورله هم بښهٔ خاطر کوي نړیوالي دنیا "ننواتے" د اپالوجي پهٔ نامه قبول کړے دے او د خپلې غلطۍ اقبال جرم کوونکے د خپل اړخه "ننواتے" ورلېږي ـ د ننواتي پهٔ حقله بدرالحکیم حکیم زے داسې لیکي چې

ننواتے:۔ اقبال جرم کرتے ہوئے مظلوم کی گھر معافی مانگنے جاتا ہے۔ بعض حالات میں قرآن کریم گھریلو خواتین اور بچے بھی ساتھ لے جاتا ہے۔ایسا کرنے سے مجرم کو ضرور معاف کیا جاتا ہے اور رنجش کو ہمیشہ کے لیئے ختم رصور کیا جاتا ہے۔13

**روغه جوړه؛** چې سوله هم ورته وائیلے شي ـ دا هم د پښتونولۍ د اهم توکي دود دستور یو جز دے چې پهٔ خپل ځاے ډېر اهمیت لري ـ د دوؤ قومونو تر مینځه په کومو اهمه مسئله یا معامله باندې کولے شي ـ چرته چې اوږده یا لنډه جګړه، د جائېداد دمسئله وغېره نورې ترخې خبرې وشي ـ بیا پهٔ دې کښې جرګه هم کېږي ـ دغه شان دا توکے د نورو سره ډېر جخت تعلق لري لکه صدیق الله ریشتین لیکي چې

"کهٔ چرې د دوؤ قومونو تر مینځ پهٔ کومه معامله باندې اوږده جګړه پېښه شي او دواړو خواؤ ته زیان او تاوان ورسیږي نو پهٔ دې وخت کښې یا د دوي په غوښتنه یا د نور اولس په نېک نیتۍ او اراده د سولې او روغې خبرې شروع کېږي سوله د یوي ټاکلې مودې دپاره د سپین روبو ملایانو او یا د اولسي جرګې له خوا منځ ته راځي په سوله کښې په دواړه خواؤ ناغه د تیګې ماتولو معنۍ لري چې ماتوونکي ته ټاکلې سزا ورکول کېږي ـ روغه دې ته وائي چې د دوؤ ډلو یا قومونو تر مینځ یوه پخه دائمي جوړه وشي ـ ټولې پخوانۍ

لانجې او جګړې فېصله شي او د وروري او قامولۍ سلسله د پخوا په شان ټينګه او کلکه شي -باجوړ کښې سولې ته (هوله) وائي کېدے شي چې اصل ئې (هوله) وي" 14

**ننګ ورورل** يعنې ننګ کول هم د دود دستور اهمه ستنه او څته ګڼلے شي چې پۀ اصل کښې د قام قبيلې دپاره کولے شي-دوه قبيلې پۀ خپلو کښې پۀ څۀ متنازعه څيز د خپل قام پۀ ننګ ودرېږي او يا پۀ لويه پېمانه د پښتون قام دپاره ننګ کول ـ خوشحال بابا د ننګ ډېره ستائنه کړې ده او پښتانۀ ئې د ننګ کولو دپاره راپارولي دي چې اصل کښې د قام د نبض شناسۍ يو لوې علامت ياديږي.

ننګ ورورل د د پښتون قام پۀ تاريخ کښې ډېر لوې حېثيت لري پۀ دې حقله دا ښاغلے ليکوال او پوهاند ليکي چې

"ننګ ورورل؛ ګله کله خلق هغه خپلو عزيزانو ته ننګ وروړي او ملاتړ او مرسته ورنه غواړي دا هم يو داسې پښتنے دود دے-د ننګ وروړلو يا ننګ کولو لار دا ده چې دې په ذ يو مشر ملک کورته ورځي يا به تورسري ورلېږي او د هغه پښتنے غېرت به په جوش راولي پۀ پښتنو کښې د ښځو درناوے يو لوې صفت دے نو ځکه ورته په درانۀ نظر کتل کېږي او د چا انګڼ ته د کومک او مرستې دپاره ورشي نو بې نوا ئې نۀ پرېږدي او خامخا ورسره مرسته کوي" 15

**پناه ورکول؛** د پښتنو يو لوې تاريخي صفت دا دے چې پناه راوړونکي ته به پناه او ځاے ورکوي او د هغۀ د سر او مال ساتنه به کوي په پښتنو کښې دغسې ډېرې قيصې تېرې شوېدي چې يو سړي د خپل پلار يا زوي وژونکي ته هم پناه ورکړې ده-کۀ څوک د خطر په وخت کښې يا د مرګ له وېرې نه د چا کور او ځاے ته پناه يوسي او ځان ورته وسپاري،نو هغه به ئې د پښتني قانون لۀ مخه هرومرو ساتنه او پالنه کوي پۀ تواريخ حافظ رحمت خاني کښې دا قيصه راغلې ده-

"چې د ملک احمد يوسفزي او دلازاکو تر مينځ سخته فتنه وه-کوم وخت چې ملک احمد د سولې دپاره د ملک محمد خان دلازاک کلي ته ورغے خلک پرې خبر شول او غوښتل ئې چې وئې وژني په دې وخت کښې د ملک محمد خان مېرمنې دۀ ته پۀ خپل کالۀ (کور) کښې پناه ورکړه او د مرګ څخه ئې وساتۀ" 16

مګر کۀ چرې يو ګنهګار چاته پناه وروړي نو بيا د بې طرفه اولس مشران،دسولې او جوړې دپاره کوشش کوي او خامخا د حل يوه لاره په کښې راپېدا کوي-

**د ښځمنو درناوے؛** په پښتني قانون کښې د ښځمنو درناوے يو سپېځلے او منلے دود دے-تر دې چې جنګ او جګړو په وخت کښې هم ورسره له هر ډول خطر سره پۀ امن وي په ازادانه ډول تګ راتګ کولے شي او لۀ کوره وتلے راوتلے شي-د ښځو او تور سرو بندي کول هم يو ناوړه کړلے کار دے او په پښتني قانون کښې ورته په بدنظر کتلے کېږي -د جنګ پۀ دوران کښې کۀ د دښمن ښځې هم د چا په کور ورشي نو هم څوک ورته څۀ نۀ وائي-

د شېر شاه سوري په وخت کښې چې د همايون مغولي ښځمنې د هغه د لښکرو په لاس ورغلې نو ټولې ئې په ډېر عزت او حفاظت خپل دښمن ته وروسپالې-مغل داسې کوي

نو پښتانهٔ به ئې نهٔ کوي چې نهٔ ئې کوي نو د خپل قانون نه به مخ اړوي -
**غزا او جهاد؛** غزا د دين او مذهب په نامه د يو مقدس جنګ نوم دے- کله چې يو کافر او بې دينه دښمن د اسلام او پښتنو په خاوره او زمکه يرغل وکړي نو ټول پښتانهٔ، نر او ښځې،زاړهٔ او ځوانان د قربانۍ مېدان ته راوځي او په نغارو او ډولونو د جنګ ډګر ته ورځغلي لکه چې يو په پښتنه مېرمن خپل خوږ جانان د غزا مېدان ته داسې استوي -

کهٔ تور وربل مې ميراتېږي
ددين غزا ده جانان نهٔ منع کومه

پښتون ملت د محمود غزنوي شهاب الدين غوري شاه سوري احمد شاه ابدالي په جنګونو او غزاګانو کښې او بيا د پرنګيانو سره په ټولو غزاګانو کښې داسې قربانۍ وکړې او سرونه ئې شيندلي دي چې تاريخ ئې نهٔ شي هېرولے-دا مطلب په يوه پښتو لنډۍ کښې داسې راغلي دي -

زلمي ولاړ توري تر ملا دي
غزا له ځي په خپل وطن سر ورکوينه

## حوالې


(1) .دانش،نورمحمد ،ډاکټر،د پښتو ټپې عمراني مطالعه،ډائرېکټر پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، 2017ء،ص24
(2) .داؤد ،داورخان،پښتو ټپه يونيورسټي بک ايجنسي،خېبربازار پېښور،س ن،ص66
(3) .حکيم زے،بدرالحکيم،پشتونولي عظيم قوم کی عظيم ثقافت،افغان نېشنل پارټي صوبه افغانيه پاکستان 2009ء(اشاعت دوم)ص21
(4) .دانش،نورمحمد ،ډاکټر،د پښتو ټپې عمراني مطالعه، ءص153
(5). طائر،نوازمحمد ،پروفېسر،ټپه او ژوند،پښتواکېډېمي پېښوريونيورسټي، 1980ء،ص31-32
(6) Khattak, Raj Wali shah, pro introduction to Pashtun culture (a collection of essay s, university publishers, Peshawar no year p: 13
(7) .عبدالقادر،مولانا ،دفکريون،پېښور پښتواکېډېمي،س نهٔ لري،ص39
(8) .جهان عالم،ډاکټر،پښتوټپه او تلميحات،پښتواکېډېمي کوټه، 2013ء، ص125
(9) .سلمی شاهين،روهي سندرې،پېښور،پښتواکېډېمي،1984ءص608
(10) .رشتين،صديق الله،پوهاند ،پښتنے لارښود ،يونيورسټي بک ايجنسي،خېبر بازار پېښور، 2010ء (دويم چاپ)ص 21
(11) .حکیم زے،بدرالحکیم،پشتونولي عظیم ثقافت، (اشاعت دوم)ص 6
(12) .رشتين،صديق الله،پوهاند ،پښتنے لارښود ،ص 26
(13) .حکیمزے،بدرالحکیم،پشتونولي عظیم قوم کي عظیم ثقافت، ص 7
(14) .رشتين،صديق الله،پوهاند ،پښتنے لارښود) ص27
(15) .هم دغه اثر ص 29
(16) .تواريخ حافظ رحمت خاني ،پېښور چاپ